# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۸ د کب ۱۳مه | د ۲۰۲۰ د مارچ دریمه | ۵۲۴مه گڼه


# د سولې هوکړې نوي اړخونه؛

## مایک پامپیو: د سولې هوکړه محرمې ضمیمې لري او د بندیانو خوشې کولو ته ژمن یو



۳

هغه ذهنیت چې د سولې لپاره باید بدل شي

۲ مخ

د دوحې هوکړه؛ د یوه تاریخي پړاو بریا او د نوي پړاو پیل

۲ مخ

د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې تړون په څه مانا؟

۳ مخ


## چین: د امریکا او طالبانو تر منځ له هوکړې وروسته به د باثباته سولې پر لور گام واخیستل شي

د چین نړیوالې راډیو د خبر له مخې، د چین د بهرنیو چارو وزارت ویاند جاو لي جیان ویلي، چې د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې تړون له لاسلیک وروسته به په افغانستان کې د باثباته سولې پر لور گام واخیستل شي.

نوموړي ویلي، چین غواړي چې په افغانستان کې د سولې او روغې جوړې له بهیر څخه ملاتړ او مرستې برابرې کړي. ویاند جاو لي جیان زیاته کړې چې د چین په گډون، د ځینو هېوادونو او نړیوالو سازمانونو استازو د یاد تړون د لاسلیک په مراسمو کې گډون وکړ. د هغه په خبره، چین د امریکا او طالبانو تر منځ د هوکړې هرکلی کوي او په دې نظر دی چې دا د افغانستان د مسئلې د سیاسي حل لپاره ډېر اهمیت لري.

نوموړي دغه راز زیاته کړې چې چین په افغانستان کې د افغانانو تر لارښوونې لاندې د دغه هېواد د اداره کولو لپاره له زغموونکي سوله ییز بهیر څخه ملاتړ کوي، په افغانستان کې مېشت بهرني پوځیان باید په منظمه او مسووﻻنه توگه له دغه هېواد څخه ووځي، په دغه هېواد کې دې ثبات او امن تامین کړي، د امنیتي تشې د رامنځ ته کېدو مخه دې ونیسي او په تېره بیا په دغه هېواد کې دې د ترهگریزو ډلو د بېرته فعالېدو مخه ونیسي.

## د ثبات او همپالنې ټاکنیزه ډله به ډېر ژر خلور نور والیان هم معرفي کړي



۵ مخ

## ځېره

۴ مخ

### حسني مبارک



د مصر پخواني ولسمشر حسني مبارک د ۹۱ کالو په عمر په قاهره کې په روغتون کې ومړ. مبارک په ۲۰۱۱ ز کال کې د مصر په لر او بر کې د څه باندې دوو اونیو لاریونونو په پایله کې له واکه گوښه شو او د هېواد چارې یې پوځي شورا ته وسپارلې. دی نږدې ۳۰ کاله د مصر ولسمشر و.

## موم‌ند: په پکتیا کې پر سلو بزگرانو د کورنیو باغچو اړوند توکي وېشل شوي



د پکتیا د کرنې او مالدارۍ ریاست د «IRC» موسسې په همکارۍ، د دغه ولایت د احمداباد او سیدکرم ولسوالیو پر ۱۰۰ نارینه او ښځینه بزگرانو د کورنیو باغچو اړوند ۱۵ توکي وېشلي دي. د کورنیو باغچو اړوند دا توکي د غیر موسمي سبو د تولید، مېرمنو ته د کارموندنې، د مېرمنو ونډه، د دوی د کورنیو په اقتصادي غوړېدا او د خوراکي تنوع په پار پر دغو بزگرانو وېشل شوي دي.

د پکتیا ولایت د کرنې او مالدارۍ رییس انجنیر محمد الدین مومند ویلي، د دغو توکو له وېشلو څخه موخه د غیر موسمي سبو کښت او تولید دی چې په عملي کېدو سره یې مېرمنو ته د کار زمینه برابره او د دوی د کورنیو د اقتصادي ودې لامل کېږي. پر دې سربېره چې دغه کورنۍ باغچې د بېوزلو او بې سرپرستو مېرمنو لپاره د عاید ښه سرچینه ده، په کورنیو کې د خوراکي تنوع ښه عامل هم گڼل کېږي.

## طالبان: تا زمانی که پنج هزار زندانی ما رها نشوند، گفت‌وگوهای بین‌الافغانی را آغاز نمی‌کنیم



ذبیح‌الله مجاهد، سخنگوی طالبان به خبرگزاری رویترز گفته است، تا زمانی که پنج هزار زندانی این گروه از زندان‌های حکومت افغانستان رها نشوند، آنان گفت‌وگوهای بین‌الافغانی را آغاز نمی‌کنند.

سخنگوی طالبان گفته است، فرق نمی‌کند شمار این زندانیان از پنج هزار تن صد یا دوصد کم یا بیشتر باشد، اما آزادی آنان برای آغاز گفت‌وگوهای بین‌الافغانی ضروری است.

توافق‌نامهٔ صلح امریکا با طالبان پس از ماه‌ها تلاش و رای‌زنی روز شنبهٔ این هفته در دوحهٔ قطر به امضا رسید. در این توافق‌نامه آمده است که مراحل آزادی پنج هزار زندانی طالبان از زندان‌های حکومت افغانستان تا دهم مارچ طی شود. طبق توافق‌نامه، امریکا در آزادی این زندانیان نقش تسهیل‌کننده را دارد.

اما محمد اشرف غنی در یک نشستی خبری گفت که امریکا صرفاً تسهیل‌کننده است و نقشی در آزادی این زندانیان ندارد.

محمد اشرف غنی افزوده است که رهایی ۵۰۰۰ زندانی طالبان نباید پیش شرط برای آغاز مذاکرات بین‌الافغانی باشد. آقای غنی افزود: «ما با امریکا روی رهایی زندانیان موافقه نداریم. وضاحت کامل وجود دارد و باز برای تان تکرار می‌کنم این صلاحیت جمهوری اسلامی افغانستان است، تنها و تنها این موضوع در چهارچوب مذاکره همه جانبه مورد بحث قرار گرفته می‌توانند.»




## دریځ

### هغه ذهنیت چې د سولې لپاره باید بدل شي

د طالبانو او امریکا تر منځ د سولې د هوکړې له لاسلیک وروسته، اوس تر ګردو لوی بحث او مسئله د افغانانو خپلمنځي خبرې دي چې لا یې په تړاو جدي خنډونه او اندېښنې شته. طالبان نه مني چې له افغان حکومت سره د حکومت په حیث خبرو ته حاضر شي. حکومت بیا یو مخ بین الافغاني خبرې نه مني او وایي چې خبرې به د افغانستان د اسلامي جمهوریت او د طالبانو د ډلې یا تحریک تر منځ کېږي. په دې سره حکومتي اړخ غواړي چې طالبان یوه ډله وښیي، ځان جمهوریت کړي او سیاسي ګوندونه او سیاستوال یو مخ د سولې له خبرو څنګ ته کړي، له همدې امله بین الافغاني خبرې سختې او پېچلې کېږي.

اصلي ستونزه دا ده چې لا هم ښکېل لوري د سولې جدي اراده نه لري. طالبان غواړي ځان فاتح او ګټونکی وښیي او له امریکا سره له هوکړې وروسته یې دا روحیه لا پیاوړې شوې ده. حکومت بیا نه یوازې غواړي چې طالبان د تسلیم شوو په ډول راولي او یا هم یو مخ د سولې او جوړجاړي پر وړاندې ولاړ دی؛ بلکې فکر کوي چې سوله او جوړجاړی به یې اوسنی واکمنې ختمه کړي. له همدې امله د دواړو لورو تر منځ واټن زیات دی. دا یوازې یو نظري اختلاف هم نه دی، بلکې اوس چې ټاکل شوې بین الافغاني خبرې پیل شي، له عملي خنډ سره مخ دي. طالبان له امریکا سره د شوې هوکړې له مخې د خپلو پنځه زره بندیانو د خوشې کولو غوښتنه کوي، خو حکومت دا نه مني او وایي چې دا کار به په بین الافغاني خبرو کې له توافق او پرمختګ وروسته په مشروط ډول کېږي. په دې ډول شته واټن د بین الافغاني خبرو په مخ کې خنډ جوړ کړی دی.

ستونزې دواړو اړخونو ته شته، د طالبانو دریځ په ځینو برخو کې لا هم توند او جدي دی چې نرمښت ته اړتیا لري او پکار ده چې نرم شي. حکومتي چارواکي بیا باید نور د خپلې واکمنۍ د دوام خوب له سره وباسي. د دوی فکر او سوچ یو مخ د سولې خلاف دی، له همدې امله پکار ده چې دا سوچ او فکر بدل شي. حکومتي چارواکي باید انعطاف وښیي، د پنځو کلونو د واکمنۍ خوبونه پرېږدي او د بندیانو تبادلې ته د امریکا له فشار پرته غاړه کېږدي. هسې هم د امریکا له فشار وروسته به لکه د پخوا په شان حتمي دا کار کوي، خو دوی ته پکار ده چې د حسن نیت په خاطر او د امریکا له فشار پرته د ولس په غوښتنه دا کار وکړي. حکومت باید دا هم ومني چې سیاسي ګوندونه او سیاستوال به په ګډ پلاوي کې وي چې له طالبانو سره خبرې کوي. دا سمه ده چې حکومت شته، خو په یو ۳٦ میلیوني هېواد کې د نهو لکو اصلي او جعلي رایو پر اساس ټاکل شوی کس، نه ولسمشر دی او نه هم دا چاره د جمهوریت تمثیل کولی شي. له همدې امله پکار ده چې د یو ولسي او ټولمنلي پلاوي لپاره هڅې وکړي او دا چاره د سیاستوالو، سیاسي ګوندونو، ښځو او عامو خلکو د استازو له ګډون پرته ناشونې ده.

اوس وخت دی چې ښکېل لوري نور د جګړې شوق پرېږدي، له خپله اړخه قرباني ورکړي او پرېږدي چې افغانان په سوله او ثبات کې ژوند وکړي او یو ځل بیا د سولې دا ستر فرصت ضایع نه شي.

# د دوحې هوکړه؛

## د یوه تاریخي پړاو بریا او د نوي پړاو پیل



لیکنه: ذاکر جلالي

د قطر په پلازمېنه دوحه کې د طالبانو او امریکایانو تر منځ د سولې هوکړه د افغانستان په نږدې تاریخ کې یو کم ساری پرمختګ و، چې د نږدې دېرشو دولتونو او نړیوالو سازمانونو استازو په کې ګډون کړی و. دغه هوکړه د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو په حضور کې په افغان سوله کې د دغه هېواد ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد او د طالبانو له خوا ملا عبدالغني برادر لاسلیک کړه. له دې هوکړې سره د افغان ربړې یو مهم پړاو چې هغه د مسئلې بهرنی اړخ و، پای ته رسېږي. د دې هوکړې له لارې امریکا هوکړه کوي چې خپل ځواکونه به د څرګند مهالوېش له مخې له افغانستانه وباسي او له دې وروسته به پر افغانانو بمونه نه شي غورځولی او هېڅ افغان نه شي نیولی. په ورته ډول به طالبان هم د هوکړې له لاسلیک وروسته پر بهرنیو ځواکونو خپل بریدونه ودروي. له لاسلیک اونۍ وړاندې د اورکم پېر وښوده چې طالبان هم یو لاس او تر یوې قوماندې لاندې دي او هم د دوحې هوکړې ته ژمنتیا لري. همدا راز بهرنیو ځواکونو هم د شوو هوکړو کوم ښکاره تخلف ونه کړ.

### د لوړې کچې مراسم

د لاسلیک د ورځې له رالنډېدو سره چې د ۱۳۹۸ لمریز کال د کب ۱۰مه او د ۲۰۲۰ ز کال د فبروري ۲۹مه وه، د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د دایمي غړو هېوادونو په ګډون، د سیمې او نړیوالو سازمانونو د نږدې دېرشو دولتونو د بهرنیو چارو وزیران او استازي دوحې ته ورسېدل. د لاسلیک لپاره کوربه هېواد قطر په ډېره لوړه کچه مراسم نیولي وو. هوکړه د دوحې په مشهور شیراټون هوټل کې لاسلیک شوه. دا داسې تاریخي مراسم وو چې زموږ راتلونکي نسلونه به یې تل یادوي. د دې مراسمو عظمت د وخت په تېرېدو سره لا جوتېږي. په دې ډول د دوحې او په تېره شېراټون نوم له افغان ربړې سره تلپاتې تړاو وموند.

د هوکړې د لاسلیک د لوړې کچې مراسمو وښوده چې د افغانستان د سولې او ټیکاو په تړاو نړیواله اجماع رامنځ ته شوې ده. په دې ناسته کې د امریکا د سیالو دولتونو استازو له امریکا سره پر ډېرو اختلافونو سربېره هم ګډون کړی و. دا ښیي چې دا دولتونه په ډېرو چارو کې د ګټو ټکر لري؛ خو افغانستان ته د سولې او ټیکاو په راګرځولو کې یې ګټې همغږې دي. د دې تر څنګ، د مراسمو لوړې کچې دا هم وښوده چې طالبان نور په مرګ محکوم نه دي او د افغانستان د ټولنې او سیاست یو داسې لوری دی چې نه یوازې دا چې انکار ترې نه شي کېدای؛ بلکې نړیواله ټولنه یې په رسمیت پېژني.

### نوی څپرکی

د امریکا او طالبانو تر منځ اوږدو مذاکراتو او په پای کې یې د دوحې د هوکړې لاسلیک بل مهم پیغام دا دی چې د افغانستان د سیاست یو نوی باب پرانیستل کېږي. په دې مانا چې هغه سیاسي څپرکی چې د ۲۰۰۱ ز کال په ډسمبر کې د طالبانو په نشتون کې د جرمني په بُن کې پرانیستل شو او افغانستان ته یې د بهرنیو ځواکونو راتګ ته «مشروعیت» ورکړ، نور کارنده نه دی. د دوحې له هوکړې سره په حقیقت کې له بُن پر راپیل شوي څپرکي د بطلان کرښه راکاږل شوه.

که د طالبانو او امریکا تر منځ د هوکړې متن وګورو، سره له دې چې امریکا طالبان وار دمخه د حکومت په توګه (د افغانستان اسلامي امارت) نه مني؛ خو دا هم واضحه ده چې اوسنی د افغانستان اسلامي جمهوریت هم نور نفي شوی دی. د هوکړې په متن کې د «نوي افغان اسلامي حکومت» د اصطلاح کارونه ښیي چې د افغانستان او امریکا اړیکې له سره تعریفېږي. په داسې ډول چې پر متقابل احترام بنا وي او د دواړو خواوو لپاره مثبتې وي. امریکا به بیا حق ونه لري چې د افغانستان د راتلونکي دولت د ملي حاکمیت اصل نقض کړي. په زړه پورې دا ده چې له اتلس کلنې جګړې وروسته دواړه غاړې په راتلونکي کې پر مثبتو اړیکو ټینګار کوي. دا ښیي چې امریکایان دې محاسبې ته رسېدلي چې د جګړې دوام نور د دوی په ګټه نه دی او پکار ده چې بدلو شوو شرایطو ته غاړه کېږدي او له سره خپلې اړیکې د نوو واقعیتونو په پام کې نیولو سره تعریف کړي.

### د طالب مشرتابه مثبت پیغام

په دوحه کې د هوکړې له لاسلیک یوازې څو شېبې وروسته د طالبانو د مشرتابه شیخ هیبةالله اخندزاده پیغام خپور شو. د دغه پیغام ژبه د پخوانیو هغو په پرتله ډېره بدله او نوي بدلونونه په کې په پام کې نیول شوي وو. طالب مشر دغه هوکړ د ټول افغان ولس «مشترکه بریا» ګڼلې او زیاته کړې یې ده چې «له افغانستان څخه د ټولو بهرنیو ځواکونو د بشپړ وتلو او په راتلونکي کې د هېڅ ډول مداخلې د نه کولو توافق یوه لویه بریا ده.»

د طالب مشر په پیغام کې بین الافغاني خبرو ته هم زرغون څراغ ښودل شوی. په پیغام کې له امریکایي لوري سره مذاکرات «پېچلي» یاد شوي. پیغام زیاتوي چې د دغو مذاکراتو بریا ټولو افغان لوریو ته دا پیغام ورکوي چې «موږ یوه معقول او عادلانه حل لپاره چمتو یو.» مولوي هیبةالله اخندزاده په غیرمستقیم ډول له افغان حکومته غوښتي چې له مخالفته لاس واخلي «د کابل اداره دې هم د ولس له مخالفته لاس واخلي.»

بل مثبت ټکی د طالب مشر په پیغام کې د خپلو مخالفینو د اندېښنو لرې کولو هڅه ده چې په پیغام کې ورته د «عفوې او بښنې» الفاظ کارېدلي. که څه هم دا الفاظ ځینو لوریو د فتحې په توګه وګڼل او منفي انګېرنې یې ترې درلودې؛ خو مهمه دا ده چې له اتلس کاله جګړې وروسته طالب مشر د هوکړې له لاسلیک سره خپل ټول مخالفین بښي او د غچ او انتقام خبره نه کوي. دغه وړ چلن راتلونکي پړاو ته لار پرانیزي.

### د طالب مشرانو درنې څرګندونې

د هوکړې له لاسلیک وړاندې په دوحه کې د طالبانو د ډېرو غړو په منځ کې د ملا برادر په حضور کې مولوي امیر خان متقي خپلو خلکو ته په وینا کې دا هوکړه «د ټولو افغانانو بریا» وبلله. متقي وویل، افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی. د متقي په خبرو کې راتلونکي بین الافغاني پړاو ته د طالبانو د تیاري څرکونه ښکارېدل. هغه وویل: «داسې فکر باید وکړو چې راتلونکی نظام د ټولو ګډ نظام دی.»

د هوکړې په مراسمو کې د طالبانو له خوا د هغوی سیاسي مرستیال او د سیاسي دفتر مشر ملا عبدالغني برادر وینا وکړه. ملا برادر له امریکایي لوري سره د شوې هوکړې پلي کېدو ته له خپله اړخ ژمنتیا وښوده. هغه وویل: «غواړي چې د نظامي او سیاسي قوت په توګه له خپلو ګاونډیانو، سیمې او نړۍ سره مثبتې اړیکې ولري.» ملا برادر په خپلو خبرو کې د بهرنیو ځواکونو په وتلو ټینګار وکړ او زیاته یې کړه چې هیله لري «افغان ولس د ټولو بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته د ارام ساه واخلي او سوکاله ژوند پیل کړي.»

د ملا عبدالغني برادر په وینا کې بین الافغاني خبرو ته ژمنتیا ډېره مهمه ده. د هغه له خبرو هم ښکارېدل چې طالبان دغه پړاو ته چمتو دي. ملا برادر وویل: «پر ټولو افغان لوریو غږ کوم چې په صادقانه ډول سره د یوه خپلواک او قوي اسلامي نظام لپاره د مذاکراتو مېز ته راوړاندې شي.»

### د افغان حکومت مخالفت

د دې ټولو شرایطو او ملي، سیمه‌ییزې او نړیوالې اجماع له رامنځ ته کېدو سره هغه څه چې لا هم بدلون ته اړتیا لري، هغه د افغان حکومت دریځ دی. ډاکټر اشرف غني له پیله د خلیلزاد په مشرۍ د دوحې له بهیره ناراضه برېښېده. تېر کال په واشنګټن کې د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب څرګندونې د دې مخالفت ښه بېلګه ګڼلای شو.

ډاکتر غني که څه هم د کابل بهیر په دویمه ناسته کې طالبانو ته د بلا قید او شرط خبرو وړاندیز وکړ. مګر کله چې دوحه کې پروسه پرمخ ولاړه او خبرو کې عملي پرمختګونه وشول، د غني په دریځ کې ورسره شاتګونه رابښکاره شول. د دغو خبرو په اړه څو څو ځلې افغان حکومت د سرو کرښو یادونه وکړه؛ خو کله چې له امریکایي لوري فشارونه زیات شول، بیا هر څه بدل شول. د انس حقاني د خلاصون له سرې کرښې د اورکم تر هغې ټولې بدلې شوې.

اوس چې طالبانو او امریکایانو هوکړه لاسلیک کړه، ډاکتر اشرف غني تر فشار لاندې ښکاري. په تازه څرګندونو کې چې د هوکړې له لاسلیک یې یوه ورځ وروسته وکړې، د پنځه زره طالب زندانیانو له خلاصون سره یې مخالفت څرګند کړ. اما له مخالفت وروسته ورته ولسمشر ټرمپ ټلیفون وکړ او د «راتلونکو ګامونو» په تړاو یې ورته وویل. که څه هم اشرف غني وایي چې ټرمپ په مشخص ډول ورته د زندانیانو د خلاصون نه دي ویلي؛ مګر د دوحې له هوکړې سره سم، بل ګام د زندانیانو خلاصون دی چې د بین الافغاني خبرو لپاره باورجوړونه وکړي.

اوس پوښتنه دا ده چې ډاکټر غني به تر څو خپل مخالفت ته دوام ورکړي. تېر ته په کتو سره چې د امریکایي لوري د فشار له واردولو سره افغان حکومت له پرمختګونو سره ځان عیار کړی، دا ځل هم همداسې برېښي چې ښایي امریکایي لوری مداخله وکړي. د بندیانو خلاصون ځکه مهم دی چې د بین الافغاني خبرو پیل چې د مارچ لسمه ورته نېټه ټاکل شوې، همدې ګام پورې تړلی دی. ګومان نه کېږي چې امریکایي لوری دې د غني مخالفتونه وزغمي او د بین الافغاني خبرو پیل دې ورته قرباني کړي.

### راتلونکی

له دې ټولو پرمختګونو سره سره، هغه څه چې لا هم تت دي، هغه د بین الافغاني خبرو پړاو دی. طالبانو چې امریکایي لوري سره یوولس پړاوه خبرې وکړې، تازه یې د دوحې هوکړه لاسلیک کړې او بین الافغاني خبرو ته خپل چمتووالی لري. اوس پوښتنه دا ده چې له کابله به ځوک بین الافغاني خبرو کې ګډون کوي؟ لا هم د مرکچي پلاوي په اړه روڼ پرمختګ نه دی شوی. د دې تر څنګ هم په حکومت کې د ننه د غني او عبدالله مخالفتونه تر بل هر وخت زیات شوي او د سیاسونو او حکومت تر منځ د مخالفتونو واټن ډېر زیات شوی. دا تر خپله بریده یوه اندېښنه ده، اما دا چې په دومره لوړه کچه پیل شوی بهیر دې له خنډ سره مخ کړي، عملي نه برېښي.

کابل کې دغه ډول وضعیت ته په پام سره، داسې نه ښکاري چې د امریکایانو له مداخلې پرته دې حکومت او سیاستوال وتوانېږي چې په لنډه موده کې داسې مرکچي پلاوی وټاکي چې ټولو ته د منلو وړ وي. پر دې اساس، راتلونکی پړاو بیا د امریکایي لوري ارادې پورې تړلی ښکاري. که دا پړاو یوازې د کابل په انحصار کې پاتې وي، د بین الافغاني خبرو بهیر به د غني او د هغه د مخالفو سیاستوالو تر منځ د سیالۍ یو بل ډګر وي. امریکایي لوری هم ښایي بې تفاوته پاتې نه شي. ځکه ان د دې پړاو د ناکامۍ پړه او هغه هم په کابل کې د حکومت او سیاستوالو له امله امریکایانو ته ورګرځېدای شي.

## وطندوست: د ولسي جرګې د تېرې دورې ډېریو وکیلانو خپلې وسلې او مهمات نه دي تسلیم کړي

د ولسي جرګې د دارالانشا رییس عبدالقادر ځاځي وطندوست ویلي چې د دې جرګې د ١٦مې تقنیني دورې ۱۳۴ وکیلانو ځېلې وسلې او مهمات بېرته ملي شورا ته نه دي سپارلي.

ځاځي ویلي چې د دوی له غوښتنو سره سره هم ځینو وکیلانو د قانون خلاف د ولسي جرګې ځینې امنیتي تجهیزات له ځان سره ساتلي او ملي شورا ته یې نه سپاري.

هغه ویلي، که څه هم د دوی له خوا ځینې مکتوبونه ولسمشرۍ ماڼۍ، ملي امنیت، کورنیو چارو وزارت او لویې څارنوالۍ ته استول شوي، خو لا هم د ولسي جرګې امنیتي تجهیزات له دوی سره شته.

د نوموړي د معلوماتو له مخې، په یادو امنیتي تجهیزاتو کې ۴۱۷ کلاشینکوفونه، ۱۵۵ د موټرونو جمر، ۱۳۸ تومانچې، ۷۵ مخابرې، ۴۰ بستې خارداره سیم، ۱۷ کانټینره، ۱۲ موټره، اووه کانکریټي ټاورونه، څلور کانکریټي موانع، درې الکترونیکي دروازې، یو د (سټاپ ډنډه) شامل دي.

ځاځي زیاته کړې، سږ کال د وکیلانو د حاضرۍ او رایې ورکونې سیسټم هم په الکترونیکي بڼه شوی او هڅه کوي چې په ولسي جرګه کې د کابینې غړو ته د باور رایو د ورکولو مرحله به هم په الکترونیکي بڼه واړوي.

د هغه په خبره، له الکترونیکي سیسټم سره به د رایې ورکولو وخت را کم او په ښه توګه به یادې پروسې ته رسېدنه وشي.

د ولسي جرګې د دارالانشا رییس د هغو ١٣٤ وکیلانو نومونه هم له رسنیو سره شریک کړي چې خپلې وسلې، مهمات او نور توکي یې نه دي سپارلي.

په دغه لېست کې د بادغیس د خلکو د پخواني استازي غلام سرور فایض نوم هم شته، خو هغه ویلي، مخکې له دې چې دندې یې پای ته ورسېږي، خپله ټوله وسله او مهمات یې ملي شورا ته تسلیم کړي دي.

دغه راز په ولسي جرګه کې د بلخ د خلکو مخکیني استازي محمد عبده ویلي، لومړی دې امنیتي مسوولین د دوی امنیت ټینګ کړي او بیا د له کومې ستونزې پرته یادې وسلې ملي شورا ته تسلیم کړي.

ده ویلي: «یوازې څلور میله وسله له موږ سره د امانت په شکل شته، خو کله مې چې امنیت ټینګ شي، نو ورته تسلیم به یې کړم.»



# د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې تړون په څه مانا؟

لیکواله: ډېوه- د چین نړیوالې راډیو خبریاله

د ۲۰۱۹ ز کال د فبرورۍ په وروستۍ ورځ، د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد او په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر مشر او مهم طالب مذاکره کوونکي ملا عبدالغني برادر په رسمي ډول د سولې تړون لاسلیک کړ. دا تړون په اسانۍ نه دی لاسلیک شوی، بلکې په تېرو دوو کلونو کې د خبرو اترو تر لسو پړاوونو وروسته لاسلیک شوی دی. ایا د دې تړون لاسلیک کېدل په افغانستان کې د هغې جګړې پای ته رسېدو مانا لري چې شاوخوا ۱۹ کاله یې دوام وکړ؟ ایا په افغانستان کې چې شاوخوا له نیمې پېړۍ راهیسې په جګړه کې دی، د دې تړون په لاسلیک سره به سوله راشي ؟

له ۲۰۱۸ ز کال راهیسې د ټرمپ حکومت په دې وپوهېده چې په افغانستان کې د امریکا لګښت ډېر لوړ دی او نه شي کولای د بریا لپاره یوازې په نظامي لارو تکیه وکړي، نو بیا یې ورو ورو د افغانستان په اړه خپله ستراتیژي تنظیم کړه او له طالبانو سره یې رسمي خبرې پیل کړې. دا د امریکا د تېرو ټاکنو پر مهال د ټرمپ ژمنه هم وه چې په افغانستان کې میشت امریکایي سرتېري به کور ته ستنوي.

د لانجو پوهنتون د افغانستان د څېړنیز مرکز مدیر جو یونګ بیاو د چین میډیا ګروپ له خبریال سره د مرکې په وخت کې وویل، چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د امریکا د لنډمهالو سیاسي ګټو لپاره کار کوي، یانې هغه په راتلونکو ټاکنو کې د بریالیتوب لپاره ځیني چارې تر سره کوي.

له ټاکنو څخه دمخه خپلې ژمنې پوره کوي او په افغانستان کې میشت امریکایي سرتېري کور ته ستنوي. د ده دا چارې په حقیقت کې د افغانستان د سولې لپاره نه دي. د پیکینګ پوهنتون د جنوبي اسیا د څېړنیز مرکز مرستیال مدیر وانګ شو هم پر دې باور دی چې امریکا د افغانستان لپاره خپله ستراتیژي په عمده ډول د کورنیو سیاسي نظرونو پر بنسټ تنظیم کړې. هغه وویل، لومړی: امریکا خپله ملي امنیتي ستراتیژي تنظیم کړه، د تروریزم پر وړاندې مبارزه اوس د ټرمپ حکومت لومړنی هدف نه دی او له ترهګرۍ سره د مبارزې د یوې سرحدي برخې په توګه د افغانستان ستراتیژیک اهمیت د پام وړ کم شوی دی. دویم: امریکایان د امریکا د تاریخ تر ټولو اوږده جنګ څخه ستړي شوي دي چې دا یوه «نه ګټونکې» جګړه ده، هرڅومره ژر چې د امریکا ځواکونه وځي، هغومره به ښه وي. درېیم: لکه څنګه چې په راتلونکې نومبر کې به د امریکا ټولټاکنې تر سره شي، ټرمپ هم مجبور دی چې په تېرو ټاکنو کې له افغانستان څخه د عسکرو ایستلو په اړه د خپل کمپاین ژمنې پوره کړي.

د تړون د اړوندې مادې له مخې، امریکا او ملګري هېوادونه باید په ۱۴ میاشتو کې له افغانستان څخه ټول سرتېري وباسي. امریکا او افغان حکومت به پنځه زره طالب بندیان خوشې کوي او طالبانو ته به دا اجازه نه وي چې په افغانستان کې د امریکا او د ملګرو هېوادونو پرسونل ته ګواښ جوړ کړي.

د افغانستان ډېر عامه افکار پر دې باور دي چې یاد تړون تر یوې اندازې پورې په افغانستان کې د سولې د رامنځ ته کېدو باور پیاوړی کړی دی. امریکا دا هم ویلي چې که چیرې طالبان دغه تړون په ښه توګه پلی کړي، نو امریکا به مرحله په مرحله له افغانستان څخه خپل سرتېري وباسي، خو د دې ارزونې لپاره هېڅ معیار نشته چې د طالبانو پلې کړې ژمنې وښيي. په عین وخت کې طالبان د افغانستان د ټاکنو پایلې نه مني او په کلکه له افغان حکومت سره له خبرو انکار کوي. اوس افغانستان اندېښنه لري چې د امریکایي ځواکونو تر وتلو وروسته په هېواد کې کورنۍ جګړه پیل نه شي.

ښاغلي جو یونګ بیا وویل چې یاد تړون ډېرې نیمګړتیاوې لري او اداري تضمینونه نه لري. طالبان وايي چې د ۵۰۰۰ طالب بندیانو خوشې کیدل به د بین الافغاني خبرو له پیل کېدو دمخه وي. طالبان وايي، افغان حکومت په رسمیت نه پېژني، بلکې د یوې سیاسي ډلې په توګه ورسره خبرې کوي.

د امریکا او طالبانو تر منځ د دې تړون له لاسلیک کېدو سره به د امریکا په تاریخ کې تر ټولو اوږده بهرنۍ جګړه پای ته ورسېږي، خو اوس افغانانو ته تر هرڅه لومړی د افغانستان اوسنی وضعیت ته وده ورکول او پوره سوله راوستل رښتینی ارزښت لري. دا تړون په لوړه کچه بدلېدلی شي. لکه څنګه چې امریکا د تړون د لاسلیک کولو په مراسمو کې وویل، که طالبان خپله ژمنه ماته کړي، نو یاد تړون به ورسره لغوه کړي.

# د سولې هوکړې نوي اړخونه؛

## مایک پامپیو: د سولې هوکړه محرمې ضمیمې لري او د بندیانو خوشې کولو ته ژمن یو



د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې هوکړې تازه تازه نانډرۍ رامنځ ته کړې دي. تر ټولو ډېر بحثونه د طالب زندانیانو پر خوشې کولو او د بین الافغاني خبرو پر پیل دي. ولسمشر غني ویلي وو چې حکومت یې د پنځه زره طالب زندانیانو خوشې کولو ته ژمن نه دی، خو امریکا بیا ویلي، دوی پر هغه هوکړه عمل کوي چې له طالبانو سره یې لاسلیک کړې ده. د ده په خبره، په افغانستان کې ښکېل لوري په رسنیو کې د تبلیغاتو لپاره هر ډول څرګندونې کوي، خو مهمه دا ده چې امریکا پر هوکړه عمل کوي.

د تېرې میاشتې په ۲۹مه د طالبانو او امریکا تر منځ د سولې هوکړه لاسلیک شوه. په دې هوکړه کې پر څو مهمو مواردو بحث شوی دی چې یو هم پکې د طالب زندانیانو خوشې کول دي. طالبان وايي چې د مارچ تر لسمې مخکې یانې د بین الافغاني خبرو تر پیل وړاندې باید د دوی پنځه زره بندیان ازاد شي. دوی به د دې کار په مقابل کې بین الافغاني خبرې پیلوي او همدا راز به د افغان لوري زر بندیان خوشې کوي. ولسمشر غني بیا د هوکړې له دې مادې سره مخالفت کړی دی او په خبره یې، تر بین الافغاني خبرو مخکې هېڅ طالب زنداني نه ازادېږي او دوی دې مورد ته ژمن نه دي. غني زیاته کړې، په بین الافغاني خبرو کې به پر دې مسئله خبرې کېږي.

د دې څرګندونو په غبرګون کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر هم څرګندونې کړې دي. هغه ویلي، دوی هغه څه ته ژمن دي چې په هوکړه کې راغلي دي. د دې خبرې پر بنسټ امریکا دا ښيي چې ګواکې د طالب بندیانو ازادولو ته ژمن دي او غواړي دا هر څه عملي کړي. نوموړي د ولسمشر غني څرګندونې هم رسنیز تبلیغات بللي دي او په خبره یې، امریکا له ټولو اړخونو سره کار کوي څو هوکړه عملي کړی شي. مایک پامپیو زیاته کړې: «تاسې ولیدل چې په سند کې څه لیکلي وو، ویل شوي چې موږ به له ټولو ښکېلو خواوو سره کار کوو چې اعتماد سازي وکړو، افغان حکومت، غیر طالبان خلک او موږ غواړو چې په دې کې ټول وي، موږ غواړو چې ښځې په کې ښکېلې وي. ډېر خلک به وي چې یو څه به وايي، ډېر شور او زوږ به وي چې په رسنیو کې له یوه بل سره د رقابت لپاره ځان ته د خلکو پام ور واړوي، څه چې مهم دي زموږ کار دی.»

په همدې مرکه کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د سولې هوکړې له یوې بلې پټې برخې هم پرده پورته کړه. د ده وویل چې له طالبانو سره هوکړه یوازې هغه څه نه دي چې له رسنیو سره شریک شوي دي، بلکې په دې کې دوه مهم محرم اسناد هم شامل دي. پامپیو ویلي، دغه مهم اسناد نظامي دي او د امریکایي ځواکونو د مصونیت په اړه دي. پامپیو وايي چې اسناد له رسنیو سره نه دي شریک شوي، خو د امریکا د کانګریس له هر غړي سره به شریکېږي. دا هغه مسئله ده چې د افغان سولې په اړه یې اندېښنې ډېرې کړې دي.

افغان حکومت لا هم ټینګار کوي چې دوی د طالبانو بندیان نه خوشې کوي. د ولسمشر ویاند صدیق صدیقي پرون په ټوېټ پیغامونه کې ویلي چې دوی د سولې خبرو ته تیار دي، خو د طالبانو د زندانیانو پر خوشې کېدو به په بین الافغاني خبرو کې بحثونه کېږي. بلخوا طالبان بیا ټینګار کوي چې د سولې تر هوکړې مخکې باید د دوی زندانیان ازاد شي. طالب سرچینې وايي چې که یې زندانیان خوشې نه شي، بین الافغاني خبرو ته نه تیارېږي.

د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب هم تېره ورځ په یوه ټلوېزیوني مناظره کې ولس ته ډاډ ورکړی چې د افغانانو او افغانستان ملي ګټو ته په ژمنتیا به دوی د سولې خبرې مخ ته وړي او اجازه به ور نه کړي چې د کلونو لاس ته راوړنې ضایع شي.

# بورېل: اروپايي ټولنه د سورېې په شمال کې د روان کړکېچ د حل په موخه بېړنۍ ناسته کوي



د اروپايي ټولنې د بهرنیو چارو وزیران روانه اونۍ د سورېې په ادلیب ښار کې د وضعیت د لا خرابېدو د مخنیوي پر لارو چارو بحث کوي.

د اروپايي ټولنې دا ناسته داسې مهال ده چې په ادلیب کې د سورېې د رژیم او ترکیې پوځیانو نښتو او د جګړو دوام له اروپا سره د ترکیې د پولو د خلاصېدو سبب ګرځېدلې او اروپا ته یې د کډوالو نوې جوپه روانه کړې ده.

د اروپايي ټولنې د بهرنۍ پالیسۍ مشر جوزف بورېل ویلي: «په ادلیب او شاوخوا کې شخړې د سیمې او تر هغه لا د پراخې کچې ثبات او امنیت لپاره جدي ګواښ پېښوي.»

د بورېل په خبره، اروپايي ټولنه دې ته اړ ده چې د ادلیب د لانجو له امله د راپورته شوي ناورین د مقابلې لپاره خپلې هڅې دوه چنده کړي.

هغه ویلي، د سورېې د ادلیب د وضعیت په اړه بېړنۍ ناسته د یونان په غوښتنه تر سره کېږي؛ ځکه چې زرګونه کډوال د ترکیې له خاورو یونان ته د ننوتلو په تمه ولاړ دي.

ترکیې وروسته له هغې اروپا ته د کډوالو د ننوتلو لار خلاصه پرېښوده، چې تېره پنجشنبه د سورېې په هوايي بمباریو کې په ادلیب کې ځیني ترکي سرتېري ووژل شول.

د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان د دغه کار موخه په سوریه کې د انقرې د پوځي عملیاتو لپاره د اروپايي ټولنې د ملاتړ جلبول ښودل شوي.

د راپورونو له مخې، په دې وروستیو ورځو کې په ادلیب او شاوخوا سیمو کې د ترکیې او سورېې د پوځیانو تر منځ نښتو زور اخیستی او هغه څه چې پخوا یو بشري ناورین بلل کېده، لا پسې زیات شوي.

دا بشري ناورین د لکونو سوري وګړو بې کوره کېدل او ترکیې ته د هغوی پناه ور وړل دي.

په سوریه کې د ترکي او سوري پوځیانو د نښتو په زیاتېدو د ترکیې او روسیې کړکېچ هم زیات شوی دی.

دا په داسې حال کې ده چې وړمه ورځ د ترکیې دفاع وزیر هولوسي اکار د ترکیې په یوه سرحدي ښار کې له خپلو قوماندانانو سره لیدلي او ویلي یې دي چې د سورېې حکومتي ځواکونو ته یې زیات تجهیزاتي او ځاني زیان اړولی دی.

اکار دغه راز له مسکوه هم غوښتي چې سوریه وهڅوي څو په خپلو ژمنو عمل وکړي.


هغه زیاته کړې: «له روسیې څخه زموږ تمې دا دي چې د یوه تضمینوونکي په توګه په خپلو ژمنو عمل وکړي، په سوریه کې له خپل نفوذه کار واخلي، څو سوریه بریدونه بند کړي او د ۲۰۱۸ ز کال د اوربند تعین شویو کرښو ته ستنه شي، موږ له روسیې سره نه د مقابلې پلان او نه کوم هدف لرو.»

## د کتــاب خبـرې

# د رهبرۍ اخلاق

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میراحمد یاد

## ۷ میداس لمس به څنګه جوړوو؟




**په ظاهر پسې مه ځئ!**

زه پر دې باور یم چې تر پیسو لویه شتمني هم شته او دا شتمني له دې ترلاسه کېږي چې تاسو له نورو خلکو سره ښه چلن کوئ. څوک چې په زرین قانون روان وي، له نورو سره دروند چلن کوي او پر دې پوهېږي چې دوی اخلاقي ژوند کوي. خو دا هم ممکنه ده چې زرین قانون یوې بلې درجې ته لوړ کړئ. تاسو له نورو خلکو سره زرین (میداس) لمس هم کولای شئ. دا په دې کولای شئ چې یوازې پر خپل ځان او هغه څه تمرکز ونه کړئ چې تاسو یې ترلاسه کوئ، بلکې د دې پر ځای نورو ته پر ارزښت ورکولو یې وکړئ.

تاسو له نورو خلکو سره زرین (میداس) لمس هم کولای شئ، دا په دې کولای شئ چې یوازې پر خپل ځان او هغه څه تمرکز ونه کړئ چې تاسو یې ترلاسه کوئ، بلکې ددې پر ځای نورو ته پر ارزښت ورکولو یې وکړئ.

ربښتینې ورکړه (بخشش) د ژوند تر ټولو لوړ معیار دی. دا نړۍ ډېره ښه ځای کوي او کاروبار هم ښه کوي. ایچ اي سټاینر ویلي:((موږ به هله ښه کاروبارونه ولرو چې خلک پر دې پوه شي چې دوی د یوه صنعت او د طبیعي سرچینو د پراختیا لپاره پیسې ورکوي. دوی بیا هم لویه برخه د انسانانو د ودې او د بشري سرچینو د پراختیا لپاره هم ورکوي.)) که تاسو له پیسو پرته نور څه هم غواړئ او پر خلکو پانګونه کوئ، نو هڅه وکړئ چې له لاندې مواردو سره سم ژوند وکړئ:

۱. له خلکو سره تر هغو چلن وکړئ چې له تاسو سره یې کوي

څوک چې مینه درسره کوي، له هغو سره مینه اسانه ده. څوک چې ښه درسره کوي، له هغوی سره ښه کول هم لږه ډېره عادي خبره ده. خو که له نورسره ضعیف چلن وکړي، بیا څه غبرگون ښیئ؟ تاسو هم د سپکاوي په مقابل کې سپکاوی کوئ؟ تاسو هم د تېري په مقابل کې تېری کوئ؟ عادي تریخوالی ډېر زر د لویو شخړو لامل کېږي. تاسو لاندې وگورئ چې څومره وړو وړو مخالفتونو د سترو جگړو اورونه بل کړي دي:

- ۹۰۰ کاله مخکې د میډونا او بولونا ښارونو ترمنځ د کوهي په بوکې (ستل) کوچنۍ شخړه د یوې جگړې لامل شوه چې اروپا یې ورانه کړه.
- چینایي امپراطورۍ یو ځل د یوه چاینک په ماتېدو جگړه پیل کړې وه.
- سویډن او پولنډ په(۱٦٥۴ز) کې له دې امله سره واوښتل چې په یوه رسمي لیک کې د سویډن د پاچا په نوم پسې دوه ټکي لیکل شوي وو او د پولنډ د پاچا په نوم پسې درې ټکي(...) وو.
- پر «مارکیس دي توري» د یوه گیلاس اوبو چپه کېدو د فرانسې او انگلستان ترمنځ جگړه پیل کړه.
- پر فرانسوي پاچا «ډي ډي گویس» یوه کوچني ماشوم د یوه کوچني کاڼي گوزار وکړ، له دې امله یې د واسي ښار اعدام او ډېرش کلنه جگړه رامنځته کړه.

د قوي کرکټر خاوند له بل انسان سره تر هغې ښه چلن کولای شي چې له ده سره یې کوي. د مدني حقونو مبارز مارتین لوتر کینگ جونیر ویلي:((ښېښه د یوې ورځې کار نه دی، دا دوامداره چلن دی.)) که هر څوک پر زرین قانون عمل وکړي، نو نړۍ به ډېر ښه ځای وي؛ خو تاسو فکر وکړئ که هر څوک له مقابل لوري سره تر هغه ښه چلن کوي چې له ده سره یې کړئ، نو نړۍ به څنگه وي؟

ښېښه د یوې ورځې کار نه دی، دا دوامداره چلن دی.

**مارتین لوتر کینگ (جونیر)**

زه بیا هغه ته د الماسو د قانون پر اساس ژوند وایم.

پلار مې راته ویلي وو چې له نورو سره ښه چلن وکړم، ان که هغوی هومره ښه چلن نه کوي. زما پلار د کالج رییس و. زما اوس هم یادېږي چې یوه استاد پوښتنه ترې وکړه چې زموږ په مالت کې د یوه کس په اړه څه نظر لرې، زما پلار ورته وویل:((فکر کوم ډېر ښه سړی دی.))

هغه ورته وویل:((خو ته پوهېږې چې ستا په اړه یې څه ویلي؟)) څه یې چې ویلي وو هغه یې زما پلار ته ټکي په ټکي وویل، بیا یې زما پلار ته وویل:((اوس یې په اړه څه وایې؟))

پلار مې ورته وویل:((ما خو مخکې درته وویل کنه چې زه فکر کوم ډېر ښه سړی دی.))
ما ټول عمر هڅه کړې چې د خپل پلار پر لاره لاړ شم. سره له دې چې زه هومره تکړه نه یم چې د الماسو په قانون دې ژوند وکړم. ما هڅه کړې چې له هره چا سره گورم، دروند چلن ورسره وکړم. زه هڅه کوم چې په اړیکو کې نورو ته څه ورکړم. زه دا له زړه درته ویلای شم چې دښمنان نه لرم. زه که له چا سره ستونزه ولرم، نو هڅه کوم چې زر تر زره یې په ښښه کړم. بیا مخکې ځم. زه په زړه کې کینه نه ساتم، ځکه دا چې څومره له ځان سره وړئ، هومره درنېږي.

هڅه وکړئ له خلکو سره ښه چلن وکړئ، ان که له تاسو سره هومره درونډ چلن هم نه کوي چې تاسو یې ورتیا لرئ. له خلکو سره خواخوږي اوسئ. په دې کار به ډېره ازادي احساس کړئ.

**دوام لري...**

# حسنې مبارک

شفیق امیرزی



د مصر پخوانی ولسمشر حسنې مبارک د ۹۱ کالو په عمر په قاهره کې په روغتون کې ومړ. مبارک په ۲۰۱۱ ز کال کې د مصر په لر او بر کې د څه باندې دوو اونیو لاریونونو په پایله کې له واکه گوښه شو او د هېواد چارې یې پوځي شورا ته وسپارلې. دی نږدې ۳۰ کاله د مصر ولسمشر و. محمد حسنې مبارک په روغتون کې له جراحي عملیاتو وروسته خپل ژوند بایللی دی. هغه په دې وروستیو کې په یوه نظامي روغتون کې بستري شوی و. د روان کال په جنورۍ میاشت کې په وروستیو کې ښاغلی مبارک د جراحي عملیاتو لپاره په روغتون کې بستري شو.

حسنې مبارک د نیل سیند په دلتا کې نړۍ ته راغلی دی. هغه په یوه بې وزله کورنۍ کې رالوی شوی او زده کړې یې کړې دي. مبارک د ښوونځي تر خلاصېدو وروسته د مصر له پوځي اکاډمۍ سره یو ځای شو. په ۱۹۴۹ز کال کې پوځ ته لاړ، بیا یې په ۱۹۵۰ز کال کې پوځ پرېښود او هوایي ځواک ته لاړ. هلته یې د پرمختللو پوځي الوتکو د کارونې روزنه ولیده او په دې برخه کې یې پوره مهارتونه خپل کړل. د ۱۹٦٦ او ۱۹٦۹ز کلونو تر منځ یې په هوایي ځواک کې ځانگړی ځای خپل کړ. هغه د هوایي ځواک مهم مدیر ټاکل شوی و او په ډېرو جگړو کې یې خپل مهارتونه ثابت کړل. وروسته د وخت ولسمشر انور سادات دی د هوایي ځواک د عمومي قومندان په توگه وگوماره. په دې موده کې حسنې مبارک خپل مهارت او وړتیا وښوده. دی په هوایي ځواک کې یو پیاوړی مدیر او وتلی قومندان شو. د ۱۹۷۳ز کال په اکتوبر کې یې د اسراییلو پر ضد د مصر په جگړه کې خپله وړتیا نوره هم ثابته کړه. په ۱۹۷۴ز کال کې د انور سادات او حکومت له لوري هغه د هوایي ځواک مارشالۍ رتبې ته ورسېد. د ۱۹۷٥ز کال په اپرېل کې د وخت ولسمشر انور سادات حسنې مبارک د خپل مرستیال په توگه وگوماره. په دې توگه نو مبارک له هوایي ځواکه د ولسمشر تر مرستیالۍ ورسېد. په دې موده کې انور سادات غوښتل چې د سیمې له هېوادونو سره ښې اړیکې جوړې کړي او په ټولو سیمه ییزو بحثونو او غونډو کې حسنې مبارک مهم رول درلود او د ټولو مذاکراتو برخه وال و.

د ۱۹۸۱ز کال د اکتوبر په شپږمه په مصر کې د انورالسادات حکومت د اسراییلو پر وړاندې د خپلې بریا کلیزه نمانځله چې پر سادات برید وشو او هغه ترور شو. له همدې وروسته حسنې مبارک چې د سادات مرستیال و، د حکومت واگې په لاس کې واخیسته او د مصر ولسمشر شو. مبارک تر ډېره د سادات پر تگلاره روان و. ده غوښتل چې د انور سادات په څېر له عربي هېوادونو سره ښې اړیکې ولري او د مذاکراتو له لارې له خپلو گاونډیانو سره اړیکې پیاوړې کړي. ده له اسراییلو سره د مصر د سولې مسئله هم ډېره مخ ته یوړه او په دې برخه کې یې فعاله ونډه اخیسته، تر دې چې د مصر او اسراییلو ترمنځ په کمپ ډېوېډ کې تړون وشو او دواړو هېوادونو د ښو اړیکو د لرلو زمنه وکړه. مصر یوه مرستندویه او مالي ملاتړي هېواد ته اړتیا لرله، له همدې امله حسنې مبارک له امریکا سره هم د ښو اړیکو د جوړولو هڅه وکړه او په دې لړ کې یې له دغه هېواد سره ښې اړیکې پیدا کړې چې بیا یې د واشنگټن په همکارۍ له اسراییلو سره د سولې خبرې پایلې ته ورسولې. په ۱۹۸۷ز کال کې ټول پوښتنې ته ورته ټاکنې په مصر کې وشوې او په دې ټاکنو کې مبارک د شپږو کلونو لپاره د مصر ولسمشر وټاکل شو.

په ۱۹۹۳ز کال کې حسنې مبارک بیا ځلې د مصر د ولسمشر په توگه وگومارل شو، خو دا دوره یې له سختو گواښونو او کړکېچونو سره مخ وه. په کور د ننه د وسله والو ملېشو او مخالفو گوندونو تحرکاتو سختې ستونزې جوړې کړې وې. حسنې مبارک دا کار نه مانه، دی به یوازینی کاندید و چې په ټاکنو کې یې برخه اخیسته او له خلکو به هم یوازې نظر پوښتنه کېده. له بلې خوا یې د ځینو اسلامي بنسټ پاله ډلو پر وړاندې پراخ عملیات پیل کړل. په تېره د هغه ډلې پر وړاندې یې عملیات شدید کړل چې پر بهرنیو سیلانیانو به یې بریدونه کول. دغه ډلې په ۱۹۹۷ز کال په مصر کې په یوه سیاحتي سیمه کې پر بهرنیو سیلانیانو د برید پر مهال ٦۰ سیلانیان ووژل. په دې وخت کې په مصر کې د سیاحت صنعت مخ پر غوړېدو و، خو دې پېښې یې سخته ملا ماته کړه او دغه مهمه عایداتي منبع له گواښ سره مخ شوه.

د ۱۹۸۱ ز کال د اکتوبر په ٦مه نېټه مصر د اسراییلو پر ضد د ۱۹۷۳ ز کال خپل جنگ برۍ لمانځه. ولسمشر انور السادات له جگ پوړیو دولتي چارواکو او بهرنیو مېلمنو سره د یو پوځي پرېډ کتلو مراسمو ته ورغلی و. د پرېډ څو تنو سرتېریو چې له (الجماعة الاسلامیه) ډلې سره یې تړاو درلود، پر ولسمشر انور السادات برید وکړ، چې ورسره د برې لمانځنې دغه مراسم مصر ته په ماتم واوښتل. د سادات د مرگ اعلان په هماغه ورځې د وخت مرستیال ولسمشر حسنې مبارک وکړ. خو څه د پاسه یوه اونۍ وروسته د اکتوبر په ۱۴مه د مصر پارلمان حسنې مبارک چې په ۱۹۷٥ ز کال کې سادات خپل مرستیال ټاکلی و، د دغه هېواد ولسمشر وټاکه.

دی چې په یو خورا سخت وخت کې واک ته ورسېد، ډېرو د دې اټکل نه کاوه چې چارې دې کنټرول کړای شي او دومره اوږده موده دې په واک کې پاتې شي. د مصر په قانون کې باید حکومت د ازادو ټاکنو له مخې واک ته ورسېږي، خو هغه رایه اچونه چې د حسنې مبارک د واکمنۍ په مهال شوې، نظرپوښتنه بلل کېده او تل د مبارک په گټه شوې دي. ولسمشر مبارک له ۱۹۸۱ ز کال راهیسې د خپلې واکمنۍ په اړه درې ځله دغه ډول (نظر پوښتنې ) تر سره کړې دي. په ۲۰۰٥ ز کال کې چې دی د خپل عمر ۷۷ کلنۍ ته رسېدلی و، د مصر په ولسمشریزو ټاکنو کې پنځم ځل هم پر خپله څوکۍ پاتې شو.

خو دا ځل د یو نوي ټاکنیز سیسټم له مخې لومړۍ ټاکنې وې چې څو کاندیدانو په کې سره سیالي کولی شوه. په مخکینیو پړاوونو کې به مصریانو یوازې یوه کاندید ته د (هو) یا (نه) رایه ورکوله چې د پارلمان له خوا به پېژندل کېده.

که څه هم د دغې ډول تگلارې خپلولو په نړیوال درېځ کې د ځرگندېدو لار ورته پرانیسته، خو په کور د ننه د توندلارو اسلامي ډلو له خوا د زورزیاتي له گواښ سره مخامخ و. په ۲۰۰٥ ز کال کې چې په افریقایي سرمشریزه کې د گډون لپاره ادیسه بابا ته تللی و، د وژنې هڅه یې وشوه. له ادیسه بابا نه په راستنېدو ولسمشر مبارک په قاهره کې خبریالانو ته وویل، هغوی چې ترهگرو ته پنا ورکوي، ببه به یې گرانه ورته پرېوزي. په ۱۹۹۰یمو ز کلونوکې په مصر کې د توندلاریو ډلو وسله وال فعالیتونه زیات شول. د پولیسو پر مرکزونو او هم په لرغونیو ځایونو کې پر بهرنیو سیلانیانو مرگوني بریدونه وشول. تر ټولو خطرناک برید د ۱۹۹۷ ز کال په نومبر کې و، چې وسله والو په کې د مصر په جنوب د الاقصر په حتشپسوت معبد کې پر سیلانیانو ډزې وکړې او څه د پاسه شپېته بهرنیان یې ووژل.

ولسمشر مبارک د ازاد اقتصاد پلوی و، حکومت یې د اقتصادي اصلاحاتو ژمنې کولې. خو مصر بیا هم د بېکارۍ له زیاتوالي او هم د ژوند ټیټې کچې له ستونزو سره لاس او گرېوان دی. د ولسمشر په توگه په خپله پنځمه دوره کې محمد حسنې مبارک په کور د ننه د سیاسي او اقتصادي اصلاحاتو لپاره له مخ په زیاتېدونکي فشار سره مخامخ شو. دې فشارونو هغه وخت زور واخیست چې په ۲۰۱۰ ز کال کې پارلماني ټاکنې وشوې او په پایله ې یې د ده گوند (ملي گوند) له نوي سلنه زیاتې څوکۍ خپلې کړې.

له دې وروسته ډراماټیک بدلونونه رامنځ ته شول او د ۲۰۱۱ ز کال د جنورۍ میاشتې په ۲٥مه د مصر په لر او بر کې پراخ لاریونونه پیل شول. درې ورځې وروسته یانې د جنورۍ په ۲۸مه لاریونونه خپل اوج ته ورسېدل او دا ورځ چې د جمعې ورځ وه (د غوسې جمعه) ونومول شوه. د دې ورځې په پایله کې پر گرځېدو بندیز ولگول شو او پوځ ته د هېواد امنیت وسپارل شو.

د همدې ورځې په ماښام ولسمشر مبارک ټلوېزیوني وینا وکړه او حکومت یې منحل کړ. یوه ورځ وروسته یې هغې غوښتنې ته غاړه کېښوده چې د دریو لسیزو واکمنۍ پر مهال یې نه منله، دا غوښتنه د مرستیال ولسمشر ټاکل و. مبارک د استخباراتو مشر تورن جنرال عمر سلیمان د خپل مرستیال په توگه وټاکه او نوی حکومت یې رامنځ ته کړ.

دې هر څه لاریون کوونکي آرام نه کړل، خو ولسمشر یې غوښتنې هم نه منلې. پایله کې د فبرورۍ په ۱۱مه مرستیال ولسمشر اعلان وکړ چې حسنې مبارک له واکه گوښه شو او د هېواد چارې یې پوځي شورا ته وسپارلې. دوې میاشتې وروسته د لاریون کوونکو د وژنې او د ملي شتمنیو پر لوټ تورن شو او د ده دوو زامنو او د کورنیو چارو وزیر حبیب العادلي د ده د شپږو نږدې کسانو د محاکمې بهیر پیل شو.

حسن مبارک د ۲۰۱۱ز کال د فبرورۍ په ۱۱مه تر سختو اعتراضونو وروسته اړ شو چې له خپلې دندې استعفا ورکړي. هغه واک نظامي شورا ته وسپاره او دی پخپله د سینا ټاپوزمې ته لاړ. د همدې میاشتې په ۲۸مه د مصر سترې محکمې او د مصر لوېي څارنوالۍ حسنې مبارک او د هغه کورنۍ ممنوع الخروج اعلان کړل. د کورنۍ شتمني یې کنگل کړه او د دوی د محاکمې لپاره یې مقدماتي فعالیتونه پیل کړل.

د ۲۰۱۱ز کال د اگسټ په دریمه د حسنې مبارک او د هغه د کورنۍ لومړنۍ محاکمه وه. دغه محاکمه د پولیسو په یوه مرکز کې جوړه شوې وه. حسنې مبارک ناروغ و او په امبولانس کې محاکمې ته حاضر کړل شو. په محاکمه کې یې شپږو سوو کسانو حضور درلود. دی تورن و چې د اوږدو لاریونونو په لړ کې یې لاریون کوونکي وژلي دي او قوانین یې مات کړي. همدا راز په مالي فساد هم تورن و چې ده او زامنو یې دغه تورونه رد کړل. د همدې میاشتې په پنځلسمه کې دویمه محاکمه وشوه. په دې کې دا تور هم ور زیات شوی و چې پر اسراییلو یې تېل پلورلي دي او په دې قرار داد کې یې رشوت اخیستی دی. مبارک بیا هم تورونه رد کړل. د جون په دویمه یې دربیمه محاکمه دایره شوه او د خلکو د وژنې له امله په دایمي بند محکوم شو. د ده د وخت د کورنیو چارو وزیر هم په دایمي حبس محکوم شو. زامنو یې بیا د فساد په قضیه کې برأت واخیست.

پر حسنې مبارک او ملگرو یې شته تورونه په زرگونو پاڼو کې چاپ شول. پر ده تر ټولو لوی تور دا و چې لاریون کوونکي یې وژلي. دوی یې چوپ کړي دي. دوی یې گواښلي چې باید له خپلو غوښتنو تېر شي. پر واک یې ځان ساتلی و او واک یې انحصار کړی و. خو له دې ټولو سره سره محکمې په ۲۰۱۳ز کال کې پر خپله پرېکړه بیاکتنه وکړه. ټول حکمونه یې باطل اعلان کړل. د تورونو د نوې محاکمې غوښتنه یې وکړه. د ۲۰۱۳ز کال په اپرېل کې قاضي د حسنې مبارک د پنځلس ورځنې بند حکم وکړ. خو بلې محکمې بیا په پلازمینه قاهره کې ده ته برأت ورکړ. بالاخره د ۲۰۱۳ کال په اگسټ کې یې خپلو ټولو تورونو برأت واخیست. له دې سره حسن مبارک له زندانه ازاد شو.

# افغانان به تاریخ تکرار کړي که به نوی باب پرانیزي؟!



لیکنه: شفیق همدرد

که د افغانستان د دې لنډ تاریخ ارزونه او څېړنه په دقیقه توګه وکړو؛ داسې پېښه او حالت به مو تر سترګو نه شي چې له امله یې متخاصمو ډلو، حاکمانو او شخصیتونو تر جنګ او جدال پرته یو بل ته په خبرو قناعت ور کړی وي او یوه بل ته یې سر ټیټ کړی وي. له بده بخته د افغانستان په معاصر تاریخ کې کړکېچ او تربګني د تیمور شاه له زامنو را پیل او تر ننه یې په بېلابېلو بڼو دوام کړی. شاه زمان د خپلو میرني ورڼو په لاس ړوند او له تخته را کوز شو، تر هغه وروسته نږدې تر اتیاوو کالو افغانستان د اور په لمبو کې وسوځېد. په همدې مهال دوه ځله انګلیس هم پر افغانستان برید وکړ؛ خو چې کله امیر عبدالرحمن خان راغی؛ تر ډېرې مبارزې وروسته یې حالات تر یوه بریده کنټرول کړل. خو امیر عبدالرحمن خان هم په زور او له انګریزانو سره تر معاملې وروسته د کابل پر تخت کېناست او خپل رقیبان یې یو په بل پسې تر تیغ تېر کړل. مانا تر امیر عبدالرحمن خان پورې حاکمانو او د جنګ ښکېلو خواوو کوښښ کړی و چې خپل مخالفین په زوره له واکه لرې او حایشې ته یې کړي. کټ مټ همدا کار امیر عبدالرحمن خان هم وکړ. له عبدالرحمن خان وروسته د هغه زوی حبیب الله خان هم خپل مخالفین چې په وروستیو کلونو کې یې د مشروطیت په نامه عرض اندام کړي وو، هم له تیغه تېر کړل. بیا وار د امیر امان الله خان شو، امیر امان الله په نویو اصلاحاتو، کارونو او افغانستان ته د آزادۍ پر اخیستلو په لومړیو کلونو کې د ډېرو کسانو د مخالفت ور ونه ګرځېد. بل هغه ثبات چې نیکه او پلار یې ساتلی و، هم ده ته ګټه ورسوله چې تقریباً لس کاله پر افغانستان له ډېر شور او مخالفته واکمن پاتې شي. خو امیر امان الله خان هم د ځینو درباري چاپلوسانو په مشوره د خپلې واکمنۍ پیاوړی نظامي او ولسي شخصیت نادر خان د حربیې (دفاغ وزارت) له بنسټه د شته مخالفتونو له امله لرې او پاریس ته یې لومړی د سفیر په توګه بیا پر کور کېناوه. تر هغه وروسته خو حبیب الله کلکاني پر هیڅ شي رحم ونه کړ او هرڅه یې سره ګډوډ کړل . نادرشاه چې کله قدرت ته ورسید، هغه هم له خپلو مخالفینو سره تر ژمنو وروسته هغه ونه ښبل. د نادرشاه تر قتل وروسته بیا د ظاهرشاه دوره پیل کیږي، د ظاهرشاه په څلوېښت کلنه دوره کې چې ډېر قدرت یې له ترونو (کاکاګانو) سره و، افغانانو یو څه د ارامۍ ساه واخیسته او د نوموړي په وروستیو لسو کالو(ډیموکراسۍ لسیزه) کې مخالفتونه اوج ته ورسېدل. په دې لسو کالو کې پنځه لومړي وزیران د مخالفتونو او تربګنیو له امله له واکه لرې کړای شول. د ظاهرشاه واکمني هم د تره د زوی سردار محمد داوود خان له لوري را نسکوره او خپله د واک پر ګدۍ کېناست. داوود خان بیا په لومړیو کې خپل ښي اړخه مخالفین چې سخت دریځي(ایخواني فکر) اسلام پاله وو، تبعید او زندانونو ته ولیږل او د واکمنۍ په اخر کې یې د خلق د ډیموکراټیک ګوند ډېری مشران زنداني کړل چې همدې کړنې شدید عکسل العمل له ځانه سره لاره او د سر دار محمد داوود خان په شمول یې د هغه د کورنۍ د ډېری غړو د شهادت لامل وګرځید. نور محمد ترکی چې قدرت ته رسېدلی و، د ارګ کالي پرې اوږده ښکارېدل، هغه هم خپل مخالفین چې پرچمیان وو، تبعید او پر حفیظ الله امین یې مرګونی برید وکړ چې بیا حفیظ الله امین د خپلو ملګرو پر مټ په بالنبت خفه او مړ کړ. حفیظ الله امین بیا د واک په نشه مست و، ده هم خپل مخالفین نه شوای زغملی، هغه وو چې د نور محمد ترکي څو ملګري په کابل کې د شوروي سفارت ته ورغلل او هغوی یې هم په تابوتونو کې شوروي ته انتقال کړل. ببرک کارمل هم له تفاهمه پرته د روسانو په ملتیا حفیظ الله امین په خپل کور کې وواژه او د واک پر ګدۍ کېناست. خو ډاکټر نجیب بیا د خپلې وړتیا او اړتیا له مخې چې باید یو پښتون مشر واکمن شوی وای، واک ته ورسېد. د ډاکټر نجیب واکمني هم د مجاهدینو د بریدونو او مخالفتونو له امله کمزورې شوې وه. هغه وه چې نوموړي د بینانسیوان طرحې ته چې واک یې مجاهدینو ته لیږداوه، غاړه کېښوده او له همدې سره په هیواد کې نوې ډرامه او د افغانانو د بربادۍ بل او تازه بنسټ کېښودل شو. مجاهدین هم لومړی د یوه اسلامي نهضت تر چتر لاندې راټول وو، بیا چې پاکستان ته لاړل، هغه د ایخواني فکر لرونکي یې بیا په څو ګوندونو ووېشل شول. د مجاهدینو او لویه برخه چې د ایخواني او راډیکال اسلامي فکر لرونکي وو، هم په خپلو منځونو کې سره جوړ نه شول او ډېرو یې د یوه بل ډېر کسان ووژل. بیا چې قدرت ته ورسېدل، هر یوه او هر ګوند کوښښ کاوه چې بل له مخې لرې او خپله د واک پر ګدۍ کېني. د دوی په دې اړو دوړ او غوبل کې کابل پر کنډواله بدل او لسګونه زره کابلیان ووژل شول. د دوی تر منځ هم د ګاونډیو هیوادونو په ګډون، د سیمې هیوادونو مشرانو او چارواکو د خبرو او ترو او سولې هڅې وکړې، خو دا هڅې او خبرې بې ځایه وې؛ ځکه دوی هر یوه یې واک غوښت. د دوی د همدې سرتمبګۍ او بې اتفاقۍ له امله طالبان را پیدا شول، دا چې طالبان چا راپیدا کړل او تر شاه یې څوک وو، هغه بېل بحث دی. طالبانو بیا دا ټول (مجاهدین) له مخې لرې او له هیواده وشړل. کوم یو چې په لاس ورغی، یا یې زنداني کړ یا یې وواژه. دوی هم خپلو مخالفینو ته د دې مجال ور نه کړ چې دلیل ور سره ووایې. که څه هم طالبانو څو ځلې له شمالي ائتلاف سره خبرې وکړې، خو پایله یې نه لرله. تر طالبانو وروسته بیرته زمینه همدغو کسانو ته برابره شوه او د امریکا په مرسته یې طالبان سخت وټکول او هیڅ رحم یې پرې ونه کړ. کټ مټ هغه کار چې د افغانستان په تېر تاریخ کې یوه حاکم له بل سره کړی. له طالبانو سره هم چا د همدې تحول په پیل کې خبرې نه کولې او هغه یې ترهګر بلل. په دې نوي تحول او ډیموکراسۍ کې تر طالبانو را دېخوا د سیاسیونو تر منځ هم شدید اختلافات وو، په ۲۰۰۹ ز کال کې د ټاکنو او مخالف نه منلو لړۍ را پیل چې تر ننه یې دوام وکړ. په ۲۰۱۴ ز کال کې دا اختلافات اوج ته ورسېدل او په لومړي ځل د یوه دوه سري(ملي وحدت حکومت) بنسټ یې رامنځ ته کړ چې پنځه کاله په پوره اختلاف او ستونزو کې تېر شول. دا دی اوس چې ټاکنې شوې هم یو لوری یې نه مني. بالاخره په دې ډرامه او اوږده کیسه کې تر دې ځایه را ورسېدو. اوس بیا دې بلې خوا ته طالبانو قوت موندلی. له امریکا سره یې توافق وکړ او په افغانستان کې یې ځینې سیمې هم لاندې کړې. که څه هم دا د یوه نوي پړاو پیل دی او د راتلونکې په اړه وړاندوینه سخته ده، خو هغه پوښتنې چې په دې اړه مطرح کیږي دا دي چې ایا طالبان او افغان حکومت به تاریخ بیا تکرار کړي؟ د زور او جبر له لارې به خپلو موخو ته د رسیدو هڅې وکړي؟ که به دا ځل دا ښکېلې خواوې له پخوانیو تاریخونو څخه په عبرت سره د افغانستان په سیاست کې یو نوی باب پرانیزي؟

دا پوښتنې به نږدې وخت ځواب کړي.


## معنوي: د ثبات او همپالنې ټاکنیزه ډله به ډېر ژر څلور نور والیان هم معرفي کړي

د ثبات او همپالنې ټاکنیزې ډلې ویلي، په نږدې راتلونکي کې به د څلورو نورو ولایتونو والیان هم معرفي کړي.

دا په داسې حال کې ده چې له څو ورځو چوپتیا وروسته دغه ټاکنیزه ډله غواړي په څو نورو ولایتونو کې هم والیان معرفي کړي.

د یادې ټاکنیزې ډلې غړي فضل احمد معنوي ویلي چې د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې له هوکړې وروسته د ولسمشریزو ټاکنو د لانجو د حل په برخه کې هېڅ پرمختګ نه دی شوی او اوس چې ولسمشر غني د لوړې مراسمو لپاره بېرته چمتووالی پیل کړی، عبدالله عبدالله هم په ولایتونو کې والیان معرفي کوي.

نوموړي ویلي: «د امریکا او طالبانو تر منځ د هوکړې له لاسلیک وروسته د ټاکنیزو لانجو د حل په برخه کې هېڅ پرمختګ نه دی شوی، هغو کسانو چې هم د امریکا او هم د افغان سیاستوالو له لوري منځګړیتوب کاوه، هغوی هم اوس کوم تګ راتګ نه لري، اوس چې ارګ د لوړې مراسمو لپاره چمتووالی نیسي، اجرایه ریاست هم په دې اړه بېرته خپلې ناستې پیل کړې او د والیانو د معرفي کېدو بحث یې بیا پیل کړی.»



په ورته وخت کې د ثبات او همپالنې ټاکنیزې ډلې مشر عبدالله عبدالله ته یوې بلې نږدې سرچینې ویلي، چې ټاکل شوې په تخار، بدخشان، فاریاب او دایکنډي ولایتونو کې د عبدالله عبدالله له لوري والیان معرفي شي.

وروسته له هغې چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون محمد اشرف غني د ولسمشریزو ټاکنو ګټونکی او د راتلونکو پنځو کلونو لپاره هم ولسمشر اعلان کړ، د ثبات او همپالنې ټاکنیزې ډلې مشر عبدالله عبدالله د ټاکنو کمېسیون پرېکړه ونه منله او ځان یې بریالی وګڼلو. عبدالله اعلان وکړ چې یو ټول شموله حکومت به جوړوي او بیا یې ځینو ولایتونو ته والیان هم وټاکل چې له غبرګونونو سره مخ شول او دا لړۍ بیا د کورنیو او امریکایي منځګړو له خوا د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې د هوکړه لیک د لاسلیک لپاره وځنډېده.

خو د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې اداري ویلي چې یوازې هغه والیان قانوني او د باور وړ دي چې د منتخب ولسمشر له لوري استول شوي وي.

## راپورونه: له طالبانو سره د افغان دولت د مذاکره کوونکي پلاوي پر سر اختلافونه پای ته نه دي رسېدلي

که څه هم له طالبانو سره د افغان دولت مذاکره کوونکی پلاوی مشخص شوی نه دی، خو اجرایه ریاست ویلي چې د دغې اداري استازي مشخص شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې له طالبانو سره بین الافغاني مذاکرات د مارچ په لسمه تر سره شي، خو د دغه پلاوي پر سر لا هم اختلافونه پای ته نه دي رسېدلي.

که څه هم ولسمشر غني وړمه ورځ په یوه خبري ناسته کې وویل چې تر راتلونکې یوې اونۍ به مذاکره کوونکی پلاوی مشخص شي، خو د ملي یووالي حکومت اجرایه ریاست ویلي چې د دغه ټیم ځینې کسان عبدالله عبدالله معرفي کوي.

د اجرایه ریاست ویاند محیب رحیمي ازادي راډیو ته ویلي چې د دوی له خوا کسان مشخص شوي دي.

هغه ویلي: «اجرایه ریاست د سولې له هوکړې هرکلی کوي او د دغې هوکړې د بریالي کېدو لپاره هر ډول همکارۍ ته ژمن دی، د مسئلې یوه برخه چې د ثبات او همپالنې او اجرایه ریاست له لوري د پلاوي مشخصول دي، نهایي شوي دي او هر کله چې اړتیا وه، موږ چمتووالی لرو چې یو نوملړ وړاندې کړو او په هغه ناسته کې دوی ګډون وکړي.»

که څه هم رحیمي د دغو کسانو نومونه نه دي اخیستي، خو اجرایه رییس عبدالله عبدالله ته یوې نږدې سرچینې ویلي چې د دغو کسانو شمېر شپږ تنه دی.

دې سرچینې چې د موضوع د حساسیت له کبله یې له نوم اخیستو ډډه کړې، ویلي چې د جمعیت اسلامي ګوند په استازیتوب حفیظ منصور، د پیوند ملي ګوند په استازیتوب زهرا نادري، د حزب وحدت اسلامي مردم افغانستان په استازیتوب محمد ناطقي، د جنبش اسلامي ګوند په استازیتوب محمد ایوب عرفاني او د نوې متحدې ملي جبهې په استازیتوب انوارالحق احدي هغه کسان دي چې د ښاغلي عبدالله له لوري ټاکل شوي دي.

ولسمشرۍ ماڼۍ بیا تازه په دې اړه څه نه دي ویلي، خو غني وړمه ورځ په یوه خبري ناسته کې ټینګار وکړ چې که په پلاوي کې د کسانو شمېر له اتو زیات شي، یو ډول ګډوډي به رامنځ ته شي.

په ورته وخت کې د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد ویلي چې دوی هم د بین الافغاني خبرو د پیل لپاره چمتووالی نیولی او په پام کې ده چې د دوی د پلاوي شمېر چې ۲۰ یا ۲۱ کسانو ته رسېږي، په ناسته کې ګډون وکړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ٧٦,٦٠ |
| € | ٨٣,١٠ |
| Rp. | ٤٨٧ |
| ₹ | ١٠٥٠ |
| ¥ | ١٠,٨٠ |
| £ | ٩٣,٣٠ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

سه شنبه د ۱۳۹۸ د کب ۱۳مه | د ۲۰۲۰ د مارچ دریيمه | ۵۲۴مه گڼه


www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily

وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۶ | ۱۶ | ۲٤ | ۲٤ | ۲٤ | ۲۱ |
| ۵ | ۵ | ۹ | ۹ | ۱۲ | ۱۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۵۷ | لمر ختل ۰٦:۲۱ | ماسپښین ۱۲:۰٦ | مازیگر ۰۳:۲۲ | ماښام ۰۵:۵۱ | ماخوستن ۰۷:۱۵

## نړۍ



# بوربل: اروپايي ټولنه د سوريې په شمال کې د روان کړکېچ د حل په موخه بېړنۍ ناسته کوي

۳

## راپورونه: په ايران کې د کرونا ويروس له کبله د وژل شويو کسانو شمېر ٦٦ ته رسېدلی



د ايران د روغتيا وزارت ويلي چې د کرونا ويروس له امله په دغه هېواد کې ۱۲ نور کسان مړه شوي دي.

د راپورونو له مخې، په دې سره په دغه هېواد کې د کرونا ويروس له کبله د مړو شويو کسانو شمېر ٦٦ ته ورسېد.

د ايران د دولتي ټلوېزيون په راپور کې ويل شوي چې په نويو مړو شويو کسانو کې د ايران د مذهبي مشر آيت الله علي خامنه يي ۷۱ کلن سلاکار محمد مير محمدي هم شامل دی. نوموړی لومړنی ايراني چارواکی دی چې د دغه ويروس له کبله مړ کېږي. په ورته وخت کې په ځينو راپورونو کې ويل شوي چې په ايران کې د کرونا ويروس ۱۵۰۱ مثبت پېښې ثبت شوې دي.

دا په داسې حال کې ده چې ايران تر چين وروسته د دغه ويروس له کبله ډېر قربانيان ورکړي دي. په ايراني چارواکو کې چې پر دغه ويروس اخته شوي، د پارلمان پر غړو سربېره د دغه هېواد د ولسمشر مرستياله معصومه ابتکار او د ايران د روغتيا وزارت مرستيال ايرج حريرچي هم شامل دي.

په همدې حال کې په تهران کې د برېټانيا سفارت اعلان کړی چې د دې ناروغۍ د خپرېدو له کبله يې د خپلو کارکوونکو د تخليې چارې پيل کړې دي.

## راپورونه: د عراق نوي لومړي وزير له خپلې دندې استعفا کړې

د راپورونو له مخې، د عراق نوي لومړي وزير محمد توفيق علاوي له خپلې دندې استعفا کړې ده.

نوموړي چې په دې وروستيو کې د عراق د ولسمشر برهم صالح له خوا ورته د نوي کابينې د جوړولو چارې سپارل شوې وې، په تازه اقدام کې صالح ته په يوه ليک کې ويلي چې د ځينو مخالفتونو او ستونزو له کبله خپلې دندې ته دوام نه شي ورکولی.

دا په داسې حال کې ده چې ورمه ورځ د دغه هېواد پارلمان د پنځم ځل لپاره په دې ونه توانېد چې علاوي ته د اعتبار د رايې د ورکړې په موخه خپل نصاب پوره کړي. د عراق پارلمان ډېريو غړو له نوموړي سره د مخالفت له کبله د جرګې ناستې ته له راتګه ډډه کړې ده.

په ورته وخت کې ډېريو عراقيانو هم د نوموړي د ټاکل کېدو له کبله لاريونونه کړي او هغه يې دې پوسټ ته مناسب کس نه دی بللی. د علاوي د استعفا ليک په يوه برخه کې راغلي:

«کله چې د کابينې د تشکيل چارې راوسپارل شوې، له خلکو سره مې ژمنه وکړه چې که تر سياسي فشارونو لاندې راغلم، پخپله به استعفا وکړم، ما هڅه کوله چې يوه خپلواکه کابينه جوړه کړم، خو له بده مرغه چې مفسدو کړيو مې مخه نيوله.»

## قريشي: نياز نيست امريکا براى حل مشکلات ميان افغانستان و پاکستان دخالت کند



شاه محمود قريشى وزير امور خارجه پاکستان با اشاره به اعلاميه مشترک افغانستان و امريکا گفته است که افغانستان هر ملاحظاتى که با اسلام آباد دارد، بهتر است از راه روابط دوجانبه حل کند تا اين که ايالات متحده امريکا را در اين مسئله دخالت کند.

اين در حاليست که اعلاميه مشترک امريکا و افغانستان روز شنبه همزمان با امضاى توافقنامه صلح ميان امريکا و طالبان اعلام شد. در بخشى از اين اعلاميه آمده است که ايالات متحده امريکا متعهد است تا گفتگوها ميان افغانستان و پاکستان را تسهيل کند تا مطمئن سازد که امنيت هيچ يک از اين کشورها از قلمرو يکديگر آنان تهديد نمى شود.

آقاى قريشى در يک گفتگو با آژانس خبرى رويترز در اين باره گفت: «آنان بايد مستقيماً با پاکستان گفتگو کنند. ايالات متحده مى خواهد (از افغانستان) بيرون شود و ما هميشه همسايه باقى مى مانيم.»


او افزوده است: «اگر من مسئله اى با افغانستان داشته باشم، از واشنگتن نمى پرسم که در اين زمينه نقش بازى کند.»

اين درحاليست که افغانستان و پاکستان سال ها در روابط شان مشکلات بوده است. کابل پاکستان را به پناه دادن هراس افگنان متهم مى سازد و اسلام آباد نيز اين ادعاها را رد مى کند و نيز افغانستان را به دادن پناه گاه به شورشيان ضد پاکستان مى کند.

آقاى قريشى در ادامه گفته است که نيازى براى راهکارهاى منظم است که از طريق آن افغانستان بتواند هر موضوع را به گونه آشکار مطرح بسازد به جاى اين که آن را با امريکا در ميان بگذارد.


## ژوند

## بريا په لوړ مهارت زده کولو کې نه ده




ډېر خلک فکر کوي چې د برياليتوب لپاره بايد نوي مهارتونه او لوړ هنر زده کړل شي؛ خو له دې نه دي خبر چې په ژوند کې د برياليتوب لپاره بايد له ځينو شيانو لاس هم واخلي. په ژوند کې د برياليتوب لپاره شپه او ورځ په دې سوچ مه وهئ چې کوم او څنګه نوي مهارتونه زده کړئ؛ بلکې له خپلو ځينو عادتونو تېر شئ او خپل برياليتوب تضمين کړئ. بهانه کول ځان ته دوکه ورکول دي. کامياب خلک بهانه نه کوي. د نورو د ملامتولو کوښښ هم نه کوي. هغوی مسووليت منونکي وي او د بېځايه بهانو او دلايلو پر ځای، خپلې نيمګړتياوې درک کوي او د هغې د اصلاح لپاره وسايل لټوي. هيڅ انسان پوره نه دی. هر انسان نېمګړتيا او بدګنې لري. که تاسې غواړئ چې په هره برخه کې استاد او له هر پلوه پوره اوسئ؛ نو دا هسې هوا ګزول دي. دا کار امکان نه لري. د ژوند هره برخه او هر حالت زموږ په کنټرول کې نه دی. تاسې د هر شي د کنټرول هڅه مه کوئ. دا تاسې ته برياليتوب نه درکوي؛ بلکې تشويش، اندېښنه او خپګان درکوي.

## تازه مېوې مو د زړه له سکتې ژغوري



يوه څېړنه ښيي چې هره ورځ د مېوې خوړل، د مغزي سکتې خطر څلوېښت سلنه کموي. د انګلستان اکسفورډ پوهنتون د اوو کلونو په موده کې په يوه څېړنه کې ثابته کړې چې هره ورځ په لږه اندازه مېوه خوړل د دماغي سکتې په کمېدو کې مثبته تمامېږي. په دې څېړنه کې نږدې پنځه زره چينايانو برخه اخيستې وه. ياده څېړنه دغه راز ښيي، هغه کسان چې هره ورځ د اړتيا په اندازه مېوه خوري، دوی ډېر لږ د زړه، د وينې رګونو او د دماغي سکتې پر ناروغيو اخته کېږي. د مېوو خوړل نه يوازې دا چې په وينه کې د ګلوکوزو اندازه کنټرولوي، بلکې د هغه درملو د جانبي اغېزو مخه هم نيسي چې د شکري ناروغۍ د درملنې لپاره کارول کېږي. څېړونکي وايي، هغه څوک چې د ډوډۍ خوړو پر مهال مېوه خوري، د زړه او د وينې رګونو ناروغي يې اووه ويشت سلنه او د دماغي سکتې ناروغي يې څلوېښت سلنه کمېږي. همدارنګه د وينې فشار يې هم ټيټ وي. دغو پايلو ته په کتو، ډاکټران سپارښتنه کوي چې هره ورځ لږ تر لږه ۱۵۰ ګرامه تازه مېوه بايد وخوړل شي.

ماستر ډبټ کارت

د عزيزي بانک ماستر ډبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتياوو او شرايطو سره سم ډيزاين شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پيسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 ميليون ډېرو سوداګريزو مرکزونو/پلورنځيونو کې د منل کېدو وړتيا لري.
- د دې لپاره چې ژر پيسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشينونو ګټه اخيستلی شئ.

1515 | www.azizibank.af



عزيزي بانک
Azizi Bank